# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**30جدی _سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست غړو د مهاجرینو چارو وزارت له رئیسانو سره د همغږۍ ناسته وکړه 1

د سرپل ولایت د مهاجرینو آمر د مهاجرت نړیوال سازمان له مسوولینو سره لیدنه وکړه ---------------------------- 2

صد ها مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود --------------------------------------------------------------- 2

په پکتیکا ولایت کې سلګونه کورنۍ د لمریزې بریښنا له وسایلو برخمنې شوې------------------------------------- 3

د جرمني پارلمان د اخراجونو د اسانولو قانون تصویب کړ ------------------------------------------------------- 3

فرانتکس: په ۲۰۲۳ کې اروپايي ټولنې ته د غیر قانوني ننوتلو پېښې ۱۷ سلنه زیاتې شوې ------------------------- 5

»یو. ان. اچ. سی. ار«: افزایش شدید قربانیان و مفقودشدگان در بحیره مدیترانه در سال ۲۰۲۳ -------------------- 6

وزیر داخله آلمان از قانون تسهیل اخراج دفاع کرد---------------------------------------------------------------- 7

پارلمان آلمان راجع به قوانین مهاجرت رای گیری می کند---------------------------------------------------------- 9

# متن کامل اخبار

## د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست غړو د مهاجرینو چارو وزارت له رئیسانو سره د همغږۍ ناسته وکړه

د وزارت وېب پاڼه



د عالیقدر امیرالمؤمنین د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست، د ټولنیز مصئونیت رئیس، معاون او نورو کارکوونکو د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت له ټولو رئیسانو او مستقلو امرینو سره نن پنجشنبه د مهاجرینو چارو وزارت د ناستو په تالار کې د همغږۍ ناسته وکړه

په ناسته کې د مهاجرینو چارو وزارت د مقام دفتر رییس قاري محمد اجمل ویاړ د یادې ادارې مسولینو ته په ښه راغلاست او هرکلي سره وویل:

د اسلامي امارت ټولې ادارې په پوره ژمنتیا سره خپلو خلکو او خپل هېواد ته د خدمت په موخه کار کوي، موږ له ټولو ادارو سره همغږۍ او همکارۍ ته ژمن یو او په ټولو چارو کې د خپل مشر امیر المؤمنین حفظه الله له فرمانونو او حکمونو سره برابر مخ ته ځو.

د لوی ریاست له لوري د راغلي پلاوي مشر مولوي عبدالحکیم حکمت وویل: موږ د خپلې ادارې له لوري تاسو ته د معرفت او همغږۍ په موخه راغلي یو.

زموږ اداره د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ هیبت الله حفظه الله د فرمانونو او حکمونو تعقیب او نظارت لپاره جوړه شوې ده او ټولو ادارو سره د امیر المؤمنین د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت په برخه کې همکار یو.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

هغه زیاته کړه موږ له تاسو سره په همغږۍ او په ګډه هڅې کوو، چې د عالیقدر امیر المؤمنین د فرمانونو او حکمونو له مخې په ادارو کې چارې پرمخ لاړې شي او په ټوله کې روڼتیا او ژمنتیا رامنځته شي.

د وزارت د مقام دفتر رییس او نورو مسوولینو د دغې اداري راغلي پلاوي ته په دې برخه کې د همکارۍ ډاډ څرګند کړ او د دواړو خواوو ترمنځ په همغږۍ ټینګار وشو.

## د سرپل ولایت د مهاجرینو آمر د مهاجرت نړیوال سازمان له مسوولینو سره لیدنه وکړه

د وزارت ویب سایت




**د سرپل ولایت د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو رییس میر عبدالسلام هاشمي د زمري پر ۲۷مه په دغه ولایت کې د مهاجرت نړیوال سازمان له مسوولینو سره ولیدل.**

**د مهاجرینو آمر له ګاونډیو هېوادونو څخه د جبري راستنیدونکو لپاره د سروې او مرستو د وېش پر چټکتیا ټینګار وکړ.**

**د یادې اداري مسوولینو په دې برخه کې د مهاجرینو چارو آمریت ته د هراړخیزو همکاریو ډاډ څرګند کړ.**

**د یو بل خبر له مخې، یاد دفتر د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه یو ټولنیز مرکز چې پخوا د سرپل ولایت په امام خورد سیمه کې پرانیستل شوی و، له اوو میاشتو وروسته یې چارې بشپړې شوې او د یوې غونډې په ترڅ کې چې علماوو، سپین ږیرو او د روغتیا کمیټې غړو په شتون کې جوړه شوې وه، په یاد کلي کې د روغتیا کمیټې غړو، مشرانو او اوسیدونکو ته د ټولو اسانتیاوو په لرلو سره ګټې اخیستنې ته وړاندې کړ.**

## صد ها مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۵۰۰ تن مهاجر افغان به تاریخ ۲۷ جدی از مرز های تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.**

به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، ۷۸ خانواده که شامل ۴۰۸ تن طور جبری از آن طریق به کشور برگشت نمودند و پس ازثبت ریاست مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد، سازمان جهانی خوراک و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی، برای هر خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی از جانب کمیته موظف نیز توزیع شد.

به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار ۲۲ خانواده که شامل ۹۲ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت در ریاست امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

## په پکتیکا ولایت کې سلګونه کورنی د لمریزې برېښنا له وسایلو برخمنې شوې

د وزارت ویب سایت




د مرغومي میاشتې په ۲۷مه نیټه په پکتیکا ولایت کې ۳۳۰ کورنیو ته د سولر برېښنا وسایل وویشل شول. یادې شوې کورنۍ پخوا د یاد ولایت په برمل، ګیان ولسوالیو او مرکز کې سروې شوې او پېژندل شوې وې، چې هرې کورنۍ ته دوه دانې سولرې تختې، یوه دانه بطرۍ د تولو نورو تجهیزاتو سره د برک موسسې له لورې ورته توزیع شول.

## د جرمني پارلمان د اخراجونو د اسانولو قانون تصویب کړ

مهاجرنیوز



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




د جرمني د پارلمان استازو د پنجشنبې په ورځ د رد شویو کډوالو د اخراجولو قانون تصویب کړ. دا وروسته له هغه چې د جرمني د کډوالو ادارې شاوخوا لس ورځې مخکې وویل په ۲۰۲۳ کې دغه هېواد کې د کډوالو شمېر ۵۱ سلنه زیات شوی دی .

له فرانسې او برېتانیا وروسته اوس جرمني پرېکړه کړې چې د کډوالۍ مقررات نور هم سخت کړي. د جرمني بوندستاک یا پارلمان د پنجشنبې په ورځ د جنورۍ په ۱۸مه د رد شویو پناه غوښتونکو د اخراج د لړۍ د چټکولو قانون تصویب کړ.

د جرمني د کورنیو چارو وزیر نانسي فایزر د دغه قانون په اړه وویل: «موږ هڅه کوو چې هغه کسان چې زموږ په هېواد کې د اوسېدو اجازه نه لري ژر له آلمانه ووځي«.

د رد شویو کډوالو د ایستلو د نوي له مخې په بند کې د بې اسناده بهرنیانو د ساتلو موده لوړه شوې ده. اوس چارواکي کولی شي چې د اخراج په موخه بې اسناده کډوال تر ۲۸ ورځو پورې په بند کې وساتي.

بل پلو پولیسو ته د اخراجېدونکو کډوالو د لټولو او همدارنګه د مهاجرو د هویت د معلومولو په برخه کې هم یو شمېر نوي صلاحیتونه ورکړل شوي دي. د نوي قانون له مخې امنیتي ځواکونه کولی شي چې د بې اسناده کډوالو د نیولو لپاره ګډو کورونو ته داخل شي (تر دې دمخه دوی اجازه درلوده چې یوازې هغې کوټې ته داخل شي چې اخراجېدونکي کډوال پکې ژوند کاوه.(

دا هم ولولئ <u>د اخراج د قانون پر ضد د آلمان پارلمان مخې ته احتجاج</u>

همدارنګه په یاد تقنیني سند کې د قاچاق وړونکو پر وړاندې هم تدابیر سخت شوي دي. د آلمان حکومت ادعا کوي چې دغه نوي مقررات به په کال کې د ۶۰۰ نورو اخراجونو سبب وګرځي. نانسي فایزر زیاته کړې چې تېر کال له آلمان څخه ۱۶۴۳۰ بهرنیان اخراج شوي دي چې دا د پخوا په پرتله ۲۷ سلنه زیاتوالی ښیي.

**«ډاروونکی» قانون**

**د کورنیو چارو وزیرې دا هم ویلي چې د رد شویو کسانو ایستل به حکومت ته اجازه ورکړي چې د هغو کسانو ښه هرکلی وکړي چې له جګړو او ترهګرۍ څخه تښتېدلي دي.**

**د جرمني د کډوالو او مهاجرت فدرالي ادارې یا بامف د جنورۍ په ۸مه ویلي وو، په ۲۰۲۳ کال کې ۳۵۱۹۱۵ کډوالو په جرمني کې د پناه غوښتنه کړې ده چې په دې کې ۱۰۴۵۶۱ سوریایان، ۶۲۶۲۴ ترکان او ۵۳۵۸۲ افغانان شامل دي. د یادې ادارې په خبره، دا شمېر د یوه کال مخکې په پرتله ۵۱،۱ سلنه ډېروالی ښیي.**

**په ۲۰۲۳ کې د آلمان حکومت له پناه غوښتونکو سره د مالي مرستو د کمولو پرېکړه هم کړې وه. هغه وخت د آلمان د مالیې وزیر کریستین لیندنر ویلي وو چې حکومت کولی شي په کال کې له دې درکه یو میلیارډ یورو سپما وکړي.**

**دا هم ولولئ**
**<u>جرمني: ۲۰۲۳ کې د پناه غوښتونکو شمېر ۵۱ سلنه زیات شوی</u>**

**بل پلو بیا مرستندویه سازمانونه د حکومت د دغو نویو مقرراتو په اړه اندېښنه څرګندوي. اس او اس هیومانېټي سازمان چې په سمندر کې د کډوالو د ژغورلو ماموریتونه ترسره کوي ویلي دي، دا یوه «ډاروونکي» خبره ده چې له جګړو تښتېدلي کسان او هغه خلک چې ورسره مرسته کوي په زندان وګواښل شي.**

## فرانټکس: په ۲۰۲۳ کې اروپايي ټولنې ته د غیر قانوني ننوتلو پېښې ۱۷ سلنه زیاتې شوې

مهاجرنیوز




**د اروپا د پولې ساتنې اداره یا فرانټکس وایي چې په ۲۰۲۳ میلادي کال کې اروپايي ټولنې ته له اسنادو پرته د ننوتلو پېښې ۱۷ سلنه زیاتې شوې دي. دا له ۲۰۱۶ راهیسې اروپايي ټولنې ته د اوښتونکو کډوالو تر ټولو لوړ شمېر دی.**

د فرانټکس د ارقامو له مخې په ۲۰۲۳ کې تر ۳۸۰ زره ډېر کډوال له اسنادو پرته اروپايي ټولنې ته داخل شوي دي چې دا له ۲۰۱۶ راهيسې دغې اتحاديې ته د اوښتونکو کډوالو تر ټولو لوړ شمېر دی .په دغو مهاجرو کې ۱۰ سلنه ښځې او ۱۰ سلنه کم سنه کډوال هم شامل دي.

د اروپا د پولې ساتنې ادارې د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي دي، دغه شمېرې ښيي چې «تېر کال اروپايي ټولنې د غير قانوني ننوتلو پېښې مخ په ډېرېدو وې.«

په خبرپاڼه کې راغلي دي چې ۴۱ سلنه کډوال د مرکزي مديترانې، ۲۶ سلنه د بالکان او پاتې ۱۶ سلنه نور مهاجر بيا د ختيځې مديترانې له لارې اروپايي ټولنې ته ننوتلي دي.

د فرانټکس د شمېرو له مخې په ۲۰۲۳ کې د سوريايي مهاجرو شمېر ۱۰۰ زرو ته لوړ شوی چې د اوښتونکو کډوالو تر ټولو لويه برخه جوړوي. په دويم او دريم ځای کې بيا د ګينيا او افغانستان کډوال دي .دغه درې هېوادونه اروپا ته د اوښتونکو مهاجرو يو پر دريمه برخه تشکيلوي.

دا هم ولولئ
<u>فرانټکس: د روان کال په لومړۍ نيمايي کې غير قانوني مهاجرتونه لس سلنه ډېر شوي</u>

د فرانټکس پر شمېرو نيوکه

بل پلو بيا کارپوهان د فرانټکس پر احصايو نيوکه کوي او د کډوالو د شمېرلو طريقه يې ناسمه بولي. د فرانسې د علمي تحقيقاتو په مرکز کې جغرافيه پوه توماس لاکروا د ۲۰۲۳ په اګست مياشت کې کډوال نيوز سره خبرو کې ويلي وو، په يادو شمېرو کې دغه واقعيت په پام کې نه دی نيول شوی چې «يو مهاجر څو ځله اروپايي ټولنې ته د ننوتلو هڅه کوي.«

يا په بل عبارت، د فرانټکس شمېرې اروپايي ټولنې ته د خلکو ننوتل نه بلکې له پولو څخه د تېرېدو هڅې دي چې د امنيتي کمرو يا د فرانټکس د کارکوونکو له خوا ثبت شوې دي.

د جرمني د اوسنابروک پوهنتون يو کارپوه فرانک دوول چې له ډېرې مودې راهيسې د فرانټکس له خوا وړاندې شوې شمېرې ارزوي هم ورته نظر لري. نوموړی وايي» :فرانتکس په ښکاره توګه نه وايي چې دغه شمېرې اروپايي ټولنې ته د داخلېدو هڅې ښيي نه د کډوالو د اصلي ننوتلو شمېر«.

دا هم ولولئ
<u>فرانتکس: په ۲۰۲۲ کې له پولې د اوښتو ۳۳۰ زره پېښې ثبت شوي</u>

## »يو. ان. اچ. سی. ار»: افزايش شديد قربانيان و مفقودشدگان در بحيره مديترانه در سال ۲۰۲۳
مهاجرنيوز




**به گفته «یو. ان. اچ .سی. ار» در روز پنجشنبه، در سال گذشته ۷۱۰ تن در بخش شرقی بحیره مدیترانه غرق و یا مفقود شدند. به این ترتیب شمار قربانیان در این مسیر دریایی بین سال های ۲۰۲۲ و ۲۰۲۳ بیش از دوبرابر شده است.**

**»یو. ان. اچ. سی. ار» با اعلام رسمی آمارها گفت که مهاجران یاد شده سعی کرده بودند خود را به اتحادیه اروپا برسانند. در سال ۲۰۲۲ تعداد جان باختگان و مفقودشدگان به ۳۴۳ تن می رسید.**

**در سال گذشته شمار مهاجرانی که از طریق بحر به این منطقه رسیدند بیش از سه برابر شده و از ۱۲ هزار و ۷۵۸ تن در ۲۰۲۲، به ۴۱ هزار و ۵۸۴ تن در ۲۰۲۳ رسیده است.**

**شمار افرادی هم که از راه زمینی به این جا می رسند، به تدریج بیشتر شده و از ۶ هزار و ۲۲ تن در ۲۰۲۲، به ۷ هزار و ۱۶۰ تن رسیده است. آمار سال گذشته هنوز نهایی نشده اند.**

**بیشتر بخوانید :گارد ساحلی ایتالیا: قایق حامل حدود ۴۰ مهاجر ناپدید شده است**

**قبرس و یونان دو کشور عضو اتحادیه اروپا هستند که سواحل شان در بخش شرقی بحیره مدیترانه قرار دارد. مهاجرانی که مثلا از خاورمیانه و یا شمال افریقا هستند سعی می کنند با عبور از جنوب یونان خود را مستقیما به ایتالیا برسانند.**

**بنا به گزارش «یو. ان. اچ. سی. ار.» در دو هفته نخست سال ۲۰۲۴، به طور متوسط هر روز حدود ۱۰۰ تن بدون داشتن مدارک لازم از ترکیه به یونان آمده اند. اما ماموران گارد ساحلی یونان تصور می کنند که شمار این مهاجران به مراتب بیشتر باشد.**

## وزیر داخله آلمان از قانون تسهیل اخراج دفاع کرد

**مهاجرنیوز**

امروز پارلمان آلمان فدرال راجع به مسوده قانون بهبود پروسه بازگرداندن مهاجران تصمیم می گیرد .در حالی که وزیر داخله آلمان این قانون را برای ادامه محافظت از پناهجویان ضروری می داند، یکی از احزاب حکومت ائتلافی نظری انتقادی به آن دارد.

امروز بوندس تاگ (پارلمان آلمان) راجع به مسوده قانون بهبود اخراج پناهجویان که توسط حکومت ائتلافی ارائه شده است، تصمیم می گیرد. هدف از آن اخراج شمار بیشتری از افرادی است که حق اقامت ندارند.

به گفته نانسی فیزر، وزیر داخله آلمان فدرال، اقدامات طرح ریزی شده برای تسریع اخراج مهاجران ضروری هستند تا به این وسیله جامعه آلمان کماکان برای پذیرش پناهجویان و محافظت از آن ها آمادگی داشته باشد.

این سیاستمدار حزب سوسیال دموکرات آلمان (اس پی دی) به روزنامه آلمانی »راینیشه پُست« (شماره روز پنجشنبه) گفت: «ما با این بسته قوانین می توانیم از این بابت اطمینان حاصل کنیم که افراد بدون مدرک اقامت، کشور ما را سریع تر ترک کنند». فیزر افزود، با این نوآوری ها از پنهان شدن افرادی که قرار است اخراج شوند، جلوگیری می شود.

در همین زمینه <u>وزیر داخله آلمان : اصلاحات پناهندگی اتحادیه اروپا باید به سرعت تصویب شوند</u>

احتمال تمدید دوره بازداشت مهاجران تا ۲۸ روز

قرار است که مسوده موسوم به قانون بهبود روند بازگرداندن، به تسهیل روند اخراج کمک کند و به این وسیله شمار بیشتری از افرادی که حق اقامت ندارند، از کشور اخراج گردند.

تا به حال اخراج پناهجویان و مهاجران اغلب در آخرین لحظه ناکام می ماند. به طور مثال آن ها پنهان می شدند و دیگر پیدا کردن شان ممکن نبود.

به این خاطر قرار است بنا به این مسوده، حداکثر مدت بازداشت به قصد اخراج در آینده از ۱۰ روز کنونی به ۲۸ روز تمدید شود.

افزون براین قرار است به ماموران نهادهای دولتی اجازه داده شود که در سرپناه های دسته جمعی به غیر از اتاق پناهجوی رد شده، اتاق های دیگر را نیز جستجو کنند.

فیزر در ادامه گفت: «این اقدامات سختگیرانه لازم است تا ما در آینده نیز بتوانیم وظایف بشردوستانه مان را در قبال انسان هایی انجام دهیم که از جنگ و ترور فرار می کنند، مانند ۱.۱ میلیون پناهجو که از اوکرایین به این جا آمدند». او افزود: «و ما به این اقدامات سختگیرانه نیاز داریم تا مقبولیت محافظت از پناهجویان را در جامعه حفظ کنیم و ادغام امکان پذیر باشد.«

نگرانی های سیاستمداران حزب سبزها

کاتارینا اشتولا، یکی از دو رئیس شاخه جوانان حزب سبز از این مسوده قانون هشدار داد و گفت: «قانون اخراج به صورت غیرقابل باوری سلب حقوق انسان هایی را در پی خواهد داشت که در اصل شدیدا به محافظت نیاز دارند.«

او که با روزنامه آلمانی «نویه اوسنابروکر سایتونگ» (شماره روز پنجشنبه) سخن می گفت، در ادامه افزود، از نظر او حکومت آلمان فدرال با تدوین چنین قانونی در برابر راست ها تسلیم شده است و می گذارد که آن ها مسیر را به او دیکته کنند.

اریک مارکوارت، از نمایندگان حزب سبز در پارلمان اروپا نیز در روز چهارشنبه این مسوده قانون را زیر سوال برد. دلیل آن نظریات کارشناسی چندین حقوقدان بود .آن ها از این هراس دارند که گروه های نجات پناهجویان در بحر و اشخاص دیگری که به پناهجویان به صورت رایگان برای عبور از مرز کمک می کنند در آینده مورد تعقیب قرار گیرند. او گفت، ما با این قانون «اجندای راستگرایان را تعقیب می کنیم که بنا برآن کمک های بشردوستانه می توانند جرم انگاشته شوند». در حالی که به گفته او ارسال چنین پیامی در این وضعیت یک کار کاملا اشتباه است.

مارکوارت از حزبش خواست که در مورد این قانون مجددا مذاکره کنند.

**در همین زمینه**
**رقم اخراج پناهجویان پذیرفته نشده از آلمان دوباره افزایش یافته است**

## پارلمان آلمان راجع به قوانین مهاجرت رای گیری می کند

مهاجرنیوز



© picture-alliance/dpa/J. Büttner

**بوندس تاگ (پارلمان آلمان فدرال) در این روز پنجشنبه و در روز جمعه راجع به چند قانون مختلف که با مهاجرت ارتباط دارند، تصمیم می گیرد.**

در روز پنجشنبه نمایندگان در بوندس تاگ راجع به قانونی تصمیم می گیرند که کار نهادها برای اخراج پناهجویان رد شده را تسهیل می کند و اختیارات پولیس را برای تفتیش اقامتگاه های شان گسترش می دهد.

بنا به این مسوده قرار است پناهجویان بیش از گذشته به همکاری با نهادهایی موظف شوند که مسئول رسیدگی به درخواست های پناهندگی شان هستند. همچنین در این مسوده افزایش حداکثر مدت زمان بازداشت به قصد اخراج در نظر گرفته شده است.

در روز جمعه بوندس تاگ راجع به اصلاح حق دریافت تابعیت آلمان تصمیم می گیرد. حکومت ائتلافی آلمان مسوده ای را برای تسهیل دریافت شهروندی آلمان به بوندس تاگ ارائه کرده است.

بیشتر بخوانید: بیش از یک میلیون درخواست پناهندگی در سال گذشته در اروپا ارائه شده است

بنا به آن قرار است شهروندان خارجی به جای هشت سال پس از پنج سال پاسپورت آلمانی دریافت کنند و در صورتی که بتوانند دستاوردهای مهمی ارائه کنند، این مدت به سه سال کاهش می یابد. البته فقط افرادی در آلمان حق دریافت شهروندی این کشور را دارند که هزینه های زندگی شان را مستقلانه تامین می کنند و نیازی به کمک های دولتی ندارند.

خبرنامه